لمرزئ ۲۰۰۸/۱۱/۲۵م

# د پوهنې وزیرښاغلي وردګ د پاملرنې وړ

د ټول افغان په ملي سایټ کې د ښاغلي حکیم اکدري په یوې لیکنه کې راغلي چې د پکتیا ولایت د دارالمعلمین یو زده کوونکي د بي . بي . سي د پوښتنو ځوابونو په پروګرام کې د یوې پوښتنې په ترڅ کې ویلي چې «په داسې حال کې چې د پکتیا د دارالمعلمین ټول زده کوونکي پښتانه دي، ولې موږ ته په پارسي ژبه زده کړې کېږي (د زده کړې ژبه مو ولې پښتو ژبه نه ده) ؟»

ښاغلئ حکیم په خپله لیکنه کې زیاتوي چې « د ښووني او روزني د وزارت مرستیال وزیر صدیق پتمن د نوموړي په ځواب کې داسې وویل : تاسې خپلو استادانو ته دا خبره وکړئ (استادان دې ته اړ کړئ) چې تاسې ته په پښتو ژبه درس ووایي »

که څه هم ښاغلي حکیم د پوهنې د مرستیال وزیرصدیق پتمن او یا د پوهنې د وزارت د کوم بل مسول مقام څخه په دې اړه څرګندونه غوښتې ، خو زما په اند دا خبره باید د انټرنیټ په جال پاڼه کې د خپرولو سربېره ، په نورو لارو هم تعقیب شي .

زه به دغه ستونځه له نورو لارو هم د پوهنې د وزیر تر غوږ ورسوم ، خو دلته د یو څو ټکو یادونه اړینه بولم :

ــ د پوهنې وزارت د لومړۍ پوړۍ چارواکي باید په دې پوه شي چې په مورنۍ او ملي ژبه لوست او زده کړه د هر افغان حق دئ او دا حکومت دئ چې د اساسي قانون د دغه حکم په پلي کولو موظف دئ ، نه د ښوونځي زده کوونکي .

ــ ښاغلئ پتمن د پوهنې مرستیال وزیر ، که د اساسي قانون پورته غوښتنه نه شي پلئ کولئ او خپله دنده پر یو سپېڅلي ا وبېواکه زده کوونکي غواړي ترسره کړي چې پخپله هم پوهیږي چې ناشوني ده ، بیاخو له خپلې دندې او مسولیت څخه خبر نه دئ او یا خو چاره هسې په لوټه تېره کوي ، پلمې کوي او غواړي کار ، ونه کړي بلکې یوازې حکومت وکړي . نو بیا د پلمو پر ځای باید استعفا وکړي .

ــ د پکتیا پشان ولایت کې چې له پکتیاوالو پرته غر او لوټه یې پښتانه دي ، دا د ښاغلي وردګ او پتمن پشان پښتنو مسولینو ته د ننګ خبره ده چې په دارالمعلمین او یا نورو ښوونځیو کې یې زده کوونکي په پښتو ملي او مورنۍ ژبه لوست نه وایي .

ــ ښاغلئ وردګ که څه هم نوئ د پوهنې وزیر شوئ ، باید دغه ستونځه ژر حل کړي . حق په حقدار وسپاري او د پښتو ژبې پر وړاندې د پوهنې په وزارت کې د میرې مور چلند پای ته ورسوي .

موږ دا غوښتنه په ټینګه او کلکه سره کوو .

ــ په ولسي جرګه کې د پکتیا وکیلان په څه بوخت دي ، دوی ولې د خپل ولایت د زده کوونکو له حاله خبر نه دي ، د پکتیا سپینږیري او مشران چیرته دي او دوی ولې پخپلو زامنو رحم نه کوي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

ـ دا چي زموږ زامن له خپلې ژبې پردي کيږي ، موږ د دولت چارواکي ، سپينږيري او مشران ورته رښې رښې ګورو ، ايا پښتونواله دې ته وايي ، ايا په رينښتيا مو د پښتنو شملې پر سر لکې دي ؟ د پښتنو ننګونه او غيرتونه ولې وېده دي ؟ موږ د خپلو اولادونو سره ولې جفا کوو ؟

ـ که دولت زموږ اولادونو ته په مورنۍ ژبه زده کړه نه ورکوي او له پښتو ژبې سره تربورولي کوي ، موږ پښتانه بايد خپله ژبه وپالو او د هغې پوښتنه وکړو .

اودا ډول په سلګونو پوښتني موږ پښتنو ته متوجه دي !

پای


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de